مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَوَنگی جبارخیل

۲۰۲۲/۱۱/۱۱

# مــا ژړوې،

## زه ژړوی دې نــه شم

ته هېروې، زه هېروی دې نه شم
ته زوروې، زه زوروی دې نه شم

لړه ځواني لړ رحم ښه وي ګوره
تـه کړوې، زه کړوی دې نـه شم

مهال همدا دی بېرته نه راګرځي
تـې نـړوې، زه نړوی دې نـه شم

د نـوي وخـت نـوي چلـونـه کـوې
ما ډوبوې، زه ډوبوی دې نـه شم

هېڅ دود دستـور ته وفـاداره نه يې
مــا ژړوې، زه ژړوی دې نــه شم

زمـا د ښکلا ګلاب څه ښکلی ولاړ
تې مـاتـوې، زه مـاتـوی دې نه شم





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ